11. هم دغه کتاب، هم دغه مخ

12. هم دغه کتاب، مخ 137

13. سحر یوسفزدی ، ادب څۀ دی؟، سوات ، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز جي ټي روډ مینګوره ، دریم چاپ 1996ء ، مخ 142

# په سهېلي پښتونخوا کښې د پښتو ادبي ټولنو تاریخي پس منظر

# HISTORICAL BACKGROUND OF PASHTO LITERARY SOCIETIES OF SOUTHERN PASHTOONKHWA

Niaz Muhammad Kakar[*]

Prof. Dr. Naseebullah Seemab[†]

(Corresponding Author)

**Abstract:**

*The authors of this paper have intensively investigated the role of Pashto literary societies in Balochistan. As Balochistan is considered one of the significant centers for the promotion of Pashto language and literature besides its historical connection with the Afghanistan, a number of Pashto literary societies emerged and developed. Due to their contribution to Pashto literature; poetic & prose collections, critical and research based writings have been written.*

[*] M.Phil. Scholar, Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta

[†] Prof. Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta. Email. Naseeb902@gmail.com

*The authors of this paper strived to unpack the emergence of literary societies in Balochistan, their promoters, valueable service and much more but with a critical view.*

کله چې د يوه څخه زيات کسان راجمع شي او په اجتماعي توګه د يو کار کولو هڅه وکړي نو هغې ټولۍ ته ټولنه وئيل کيږي. په پښتو کښې معاشرې ته هم ټولنه وئيل کيږي. په نړۍ کښې او بيا خاص کر د پښتنو په دغه ټولنيز ژوند کښې ټولنه ډېر د قدر وړ وي. بېلا بېلې ټولني د بېلا بېلو کارو له پاره وي. په دې کښې ځيني داسي ټولني وي چې هغه د جرګې کردار لوبوي يعني هغه فېصلې کوي. پخوا چې د پښتنوکومي جرګې وې هغو به د عدالتو کردار ادا کاوی. ولې چې پښتانه د غرو خلګ وو او په غرو کښې به يې استوګنه درلودله، د عدالت څخه لېري وو،د ښاري ژوند او د هغو له وسايلو څخه هم ليري و. نو په داسي صورتحال کښې دا ضرورت رامينځ ته کيږي چې ژوند به څنګه کوو، د ژوند معاملات به څنګه چلوو؛په دې وجه پښتني ټولنه د يوې قبائيلي ټولني کړه وړه لري.ځکه نو د مختلفو کارو له پاره مختلفو ټولنو وجود درلود.جرګه،مرکه،اشر ،غټه جرګه،کوشنۍ جرګه او داسي نور. زموږ جرګو به د هري رنګي شخړي د ختمېدو له پاره کردار ادا کولۍ. خودلته چې موږ د کومو ټولنو ذکر کوو يا زموږ موضوع ده، هغه د ادب سره تړلي دي يعني ادبي ټولني دي چې پښتو ادب ته يې ډېر څه ورکړي دي. د پښتنو په معاشره کښې ډېر ښه ښه شاعرانو ، اديبانو، ليکوالانو روزنه د دې ټولنو پيرزوئيني دي.يعني دې ټولنو داسي پوهان او ليکولان را برسېره کړي دي چې په هغو باندي موږ اوس افتخار کوو. د هغه و شخصيت ته په ځلا او ښکلا ورکولو کښې د دې ټولنو اساسی رول دی.

پښتو ادبي ټولني وخت په وخت جوړي شوي دي، او په نره يې د پښتو ادب خدمت کړئ دی او پښتو ادب يې د لمر په شان روښانه کړئ دی. د پښتو ادبي ټولنو

جوړښت د دولسمي صدۍ هجري د شاه حسین د دور څخه شروع کېږي. هغه په خپله د پښتو ژبې ښه شاعر ؤ. د پښتو ژبې او ادب خدمت کولو مینه ورسره وه.

" که چېري موږ د پښتو ثقافتي تاریخ ته ځیر شو نو معلومېږي چې د پښتنو په سیمه کښې د ادبي جرګو جوړښت د دولسمي صدۍ هجري نه شروع کېږي. هغه وخت په کندهار کښې د هوتکو پښتنو باچاهي د حاجي میرویس خان خلجي له زامنو نه شاه حسین ته رسېدلې وه. (۱۱۱۴هـ) نه (۱۱۵۲هـ) په خپله هم د پښتو ژبې شاعر او د ذوق خاوند ؤ. د پښتو ژبې او ادب خدمت کولو مینه ورسره وه. د دهٔ شاهي مانۍ د نارنج په نامه یادېدله چې په زوړ کندهار کښې وه. دهٔ په خپل دربار کښې دغسې یوه ادبي جرګه جوړه کړې وه، چې د پښتو ثقافتي لیکوالو دغه جرګه "د ادبي دربار" په نامه یاده کړې ده. دغه ادبي دربار به په هفته کښې یو ځل د باچا مانۍ په کتب خانه کښې جوړېده. د دې ادبي غونډې صدارت به په خپله باچا کولو." (۱)

د پښتو ادب سره یوه المیه دا ده چې تر ډېره وخته پوري یې تاریخ په تیاره کښې پاته شوی دی. کېدای شي چې له دې څخه پخوا هم داسې یو روایت وي. خو بیا هم لکه څنګه چې د دې حوالې څخه څرګندېږي چې د تولنو روایت ډېر زوړ دی په هم دې حواله ډاکټر جاوید خلیل په خپله تحقیقي مقاله کښې لیکي:

"د دې لومړۍ سرکاري شاتې جرګې وروسته بله جرګه هم په کندهار کښې جوړه شوې وه. دا جرګه د دیارلسمي صدۍ هجري په شروع کښې سردار مهردل خان مشرقي (۱۲۱۴هـ) نه (۱۲۸۱هـ) جوړه کړې وه. دې جرګې

تـه سـرکاري مرسـته حاصـله نـهٔ وه. ولـي د کنـدهار ځيني نومـوړي شـاعران لکـه مرزاخـان بـارکزی، صـديق اخونـدزاده او داسـي نـور بـه د سـردار مهـردل خـان مشـرقي پـه کـور کښـې را جمـع کېـدل او شـعرونه بـه يې اورول او دغسـي ادبـي محفلونه به يې جوړول." (۲)

د دغـو ټولنـو وروسـته پـه پښـتو ادب کښـي د نـورو ټولنـو نښـه نـهٔ ده معلومـه. ځکـه لکـه ځنګـه چـې مـخ کښـې ووئيـل شـو، د پښـتو ادب او تـاريخ د تيـارې سـره مخـامخ ؤ، دلتـه هـم لـه يـو داسـي تيـارې سـر ه مخـامخ کيـږو. خـو کلـه چـې دنولسـمي پيـړۍ پـه پـای او د شـلمي پيـړۍ پـه پيـل کښـې پـه پښـتنو کښـې د ويښـتيا او بېـدارۍ هـوا چليـږي؛ پـه پښـتنوکښـي قـومي، سياسـي شـعور پيـدا کيـږي. پښـتانه خپلـي ژبـي تـه متوجـه کېـدل شـروع شي او د ژبـي او ادب د ترقـۍ د پـاره ټـولني جـوړول پيـل کيـږي. پـه کـوزه پښـتونخوا کښـې پـه (۱۹۲۱) کښـې د باچـا خـان رنګـه عظـيم سـړي اصـلاحي تحريـک " انجمـن اصـلاح الافغانـه " پـه اتمـانزو کښـې جـوړ کـړو. دغـه تنظـيم کـه څـهٔ هـم اصـلاحي ؤ خـو پـه پښـتنو کښـي دقلـم عـام کولـو او بېکـاره رواجونـه ختمولـو لـه پـاره فعـال کـردار ولوبـاوه. د دغـه تحريـک اکثـره غـړي د پښـتو مشـهور اديبـان او شـاعران وو. باچا خان اديبانو او شاعرانو ته له دې لاري يو ادبي فليټ فارم ورکړو.

"آپ نی افغان دانشوروں کو ایک مشترکہ فلیٹ فارم مہیا کرنی کی کوشش کی۔ آپ کی انہی کوششوں سی پہلی بار قومی مشاعری ، ادبی مجالس اور ادبی رسائل و جرائد کا اجرا ممکن ہوسکا۔ اسکی علاوہ کئی جدید ادبی اصناف کا پشتو میں متعارف ہونا اسی تحریک ہی کی مرہون منت ہی۔ مشاعری، ڈرامی، رپور تاژ، افسانی ، سفر نامی ہوں یا فن تحقیق ، اس تحریک کی خدمات کو فراموش نہیں کیا جاسکتا۔ انجمن اصلاح الافغانہ کی قیام سی پشتون شعراء و ادباء کی ایک بڑی اکثریت وابستہ رہی. ادباء میں سی قاضی عطاءاللہ شہید، میاں احمدشاہ شہید، حاجی عبدلاغفار خان، محمد عباس خان، عبدالاکبر اکبر، تاج محمدخان، عبداللہ شاہ اور اکبر خادم وغیرہ کا شمار ان شخصیات میں ہوتا ہی جو بعد میں پشتو ادب کی درخشندہ ستاری ثابت ہوئی۔ اور یہی وہ شخصیات تھی جنہوں نی اتمانزئی میں آزاد ہائی سکول کی قیام کی

سلسلی میں باچاخان کا بھرپور ساتھ دیا۔ آزاد سکول وہ تعلیمی ادارہ تھا جو اس تحریک کیلۓ ئی اولین درس گاہ بنا جہاں سی پشتو زبان و ادب کی چشمی پھوٹنی لگی۔"(۳)

د باچا خان د اصلاحي تحریک وروسته پښتانه په کلکه بیداره کېږي او نوي نوي ټولني په تېزۍ سره په وجود کښې راځي او خپل کار په چټکۍ سره مخ په وړاندي بیايي. د هم دې تحریک له کبله په کال (۱۹۲۵-۲۶) مینځ و میانه کښې په اسلامیه کالج خیبر پښتونخوا کښې اردو او پښتو ژبو ځای وموندلئ. په باقاعده توګه د لیک او لوست و ډګر ته راشوه شوې.دا رنګه دا لړی په ګړندیتوب روانه شوه.

(۱۹۳۲) کال شاوخوا په کندهار کښې یو پښتو ادبي انجمن جوړ شو . دې انجمن د پښتو د نورو خدماتو او مشاعرو تر څنګ د پښتو په نامه یوه میاشتنۍ مجله هم شائع کوله....کال(۱۹۳۴) کښې د ښاغلي عبدالخالق خلیق او عبدالحنان حاجي په کوششو او زیار سره په سرحدي صوبه کښې مرکزي پښتو ادبي جرګه نوښار جوړه کړې شوه...په کال (۱۹۳۶) کښې په هشتنغر کښې زلمي لیکوال، په کال (۱۹۳۸) کښې یوه حمزه صاحب د خپل پیر په وینا پېښور کښې پښتو بزم ادب جوړ کړو. ...د ازادۍ نه مخ کښې اپریل (۱۹۴۳) کښې نصرالله خان نصر د پښتو ادبي ټولني بنیاد کښېښود. وریسې کال (۱۹۴۹) کښې کاکاجي صنوبر حسین مومند اولسي ادبي جرګه جوړه کړه. ....په (۱۹۵۵) کښې په پېښور یونیورسټۍ کښي د پښتو وړومبۍ سرکاري اداره "پښتو اکېډمۍ" قائمه شوه.(۴)

دا لړۍ تش تر دا ذکر شوو سیمو پوري محدوده نه پاتېږي بلکې تر سهیلي پښتونخوا پوري هم ځان رسوي کومه چې د خپل مرکز څخه د راشلېدو له کبله بیخي

شاته پاته وه. د آزدۍ تحریکونه دلته هم اثر ښندي او د خان شهید په مشرۍ کښې دا سلسله مخ په وړاندې ځي او د ټولنو بنیاد ایښول کیږي. د ټولونو سلسله په سهېلي پښتونخوا کښې راګډیږي. د پښتو ادبي ټولونو دا سلسله هغه وخت مخ په بره روانه شوه چې په (۱۹۶۵) کښې د سهېلي پښتونخوا په سیمه بوري (لورالائي) کښې د ادبي ملګرو په نامه یوه ټولنه جوړه شوه. د لورالائي د ادبي تنظیم په بنسټ کښېښولو کښې سید خیر محمد عارف ، اروابښاد سعید ګوهر او پروفېسر رب نواز مائل کردار ادا کړی دی. چې د دوی ټولنه په سهېلي پښتونخوا کښې د ادبي ټولنو سرچینه ده. چې په هغه کښې خاص کر د سید خیر محمد عارف کار او زیارد یادوني او ستایني وړ دی.

۱۹۶۰ د لسیزي په لومړي کلونو کښې د غزل سره د عارف صاحب عشق د یو بل پراؤ په خوا روان شو. بیا هغه وخت اروښاد سعید ګوهر صاحب سره نزدې ملګرتیا او پروفیسر رب نواز مائل په قربت کښې نهٔ دوی یوازي د خپلي شاعرۍ د ملکي د بناؤ سینګار د پاره نوي رنګونه کشید کول شروع کړو، بلکې د هغه تاریخ ساز ادبي تنظیم بنسټ یې هم کښېښولو چې نن هم د پښتو ادب ملګري لورالائي په نوم د خپل فعالیت له کبله په لروبر پښتون وطن کښي پېژندل کیږي" (۵)

د پښتو ادبي ملګري ذکر په دې وجه کوم چې دا د سهېلي پښتونخوا په لرغونو ټولونو کښي یوه فعاله ټولنه ده. پر دې هم بحث نهٔ کوم چې هغهٔ کومه ټولنه وه چې پښتو ادبي ملګري یې وروزل. تر دې له مخه به خامخا دغسي ټولني، جرګې یا غونډې شوي وي چې دوی ورڅخه رنګ اخیستی وي خو دا غونډې ضروري نه ده چې تر یو خاص ټولني لاندې کېدې. دا د خان شهید د ټولني په تسلسل کي دوامي

ښه درلوده چي ورسته په باقاعده ډول د ادبي ټولنو په شکل کښي ښکاره شوې.خو دا ادبي ټولني په دوامداره توګه نه شوې پاته د بې اتفاقي او کرکو ښکار شوې.

"تردې د مخه چي کومه پښتو ادبي ټولنه وه هغه هم د کرکي او د ليکوالانو د بې اتفاقۍ په وجه دړې وړې شوه. وروسته پښتو ليټريري سوسائټي وه، هغه د بدنيتۍ په وجه له مينځه ولاړه. د هغه پس د دې ځای د بعضو ليکوالو د ادبي تندي په نتيجه کښي پښتو ادبي شپول جوړ شو، خو هغه هم ډير زر وران شو.دا پښتو ادبي ټولنه د خپله لاسه داسي دړې وړې شوه چي بيا وروسته د سهېلي پښتونخوا پر علمي او ادبي اسمان باندي د کرکي او بې اتفاقۍ توري وريځي تر يوې اوږدې مودې پوري خورې ورې وې. د ليکوالانو زړونه د يو بل څخه شنهٔ او ګراني پښتو ته يې شا ورګرځولې وه." (۶)

پس له ډير ورانيو په سهېلي پښتونخوا کښې د پښتنو ليکوالانو په همکاري او اخلاص په کوټه ښار کښې پښتو اکېډمۍ تشکيل شوه. په ۱۹۷۱ کال د اګست په اتمه نېټه د کوټي په شالدره کښې د ښاغلي عبدالقدوس دراني په کور کښې د پښتو اکېډمۍ په هکله مفصلي خبري وشوې چي موږ يې لنډيز په لنډه توګه راوړو.

"د بلوچي اکېډمۍ کړنلاره د پښتو اکېډمۍ د پاره په لږ څه بدلون سره ومنل شوه، او د حاضرينو له خوا تصويف شوه.

* لاندي کسان په پښتني مينه عهدياران وټاکل شو.

صدر : ډاکټرخدائيدادخان

جنرل سېکټري : سلطان محمد صابر

خزانچي : سید عابد شاه عابد

غونډي دا فیصله وکړه چي لاندي کسان به د اکېډمۍ د پر مختګ د پاره هڅي کوي. لکه سلطان محمد صابر ، عزت الله نیازي، اخترمحمد خان، سید عابد شاه عابد ، ډاکټر خدائیداد خان، او سیال کاکړ. موږ په کامل اخلاص له خلګو څخه چندې راټولي کړي. (۷)"

د پښتو اکېډمۍ د پرانستو پس د لیکوالانو هڅي او ادبي کارونه واقعي هم د قدر وړ دي. دا یو داسي فلیټ فارم وګرځېدی چي د خلګو سره سره یې د حکومت توجه هم راجلب کړه چي اوس یو غټه علمي اداره ده.او په سهېلي پښتونخوا کښي د پښتو ژبي پر مخ تګ لپاره په کلکه ګامونه اختسل کېږي چي هغه د ورایه څخه ښکاره دي. د هغه وجه دا ده چي یو خوا ته د اکېډمۍ عهدېداران وټاکل شو او د مجلس منتظمه غړي او د پښتو اکېډمۍ اساسي غړي هم وټاکل شو او بل دوی باقاعده لوظ وکړئ چي موږ به د خپلي ژبي د پر مختګ د پاره په زړۀ پوري هڅه کوو. د دې ټولو پرېکړو وروسته د پښتو اکېډمۍ په باقاعده طور د پروګرام په شکل کښې افتتاح کېږي.

"د پښتو اکېډمۍ افتتاح په کال (۱۹۷۱) کښي د اکتوبر په نولسمه نېټه د پښتون کمشنر په لاس وشوه. په دې درنه غونډه کښې پرته له لیکوالو د ښار مخورو او خان شهید عبدالصمد خان اځکزي هم ګډون درلود."( ۸)

د پښتواکېډمۍ وروسته په سهېلي پښتونخوا کښې د پښتو ادب مخ په وړاندي روان دی. پښتو ژبي په بلوچستان پوهنتون کښې هم ځای پیدا کړو. چي هغه وخت تدریسي او تحقیقي چاري په پښتو څانګه کښي سید عابد شاه عابد او د پروفیسر سیال کاکړ په غاړه وې.

"پښتو له (۱۹۷۴) کال څخه په بلوچستان پوهنتون کښې څۀ نه څۀ ځای پیدا کړې. اوس د سهېلي پښتونخوا ځوانان کولای شي چې د بلوچستان پوهنتون څخه د پښتو ادیب، عالم و فاضل امتحانونه ورکوي." (۹)

یو بله ټولنه چې دا وخت په پښتانه وطن کښې یې تر ټولو زیاتي ادبي او تنقیدي ناستي کړې دي بلي ټولني نه دي کړې هغه ده ملګري لیکوال کوټه چې د ۱۹۹۲ د اګست په میاشت کښې جوړېږي او تر اوسه پوري په مسلسله توګه په میاشت کښې دوه دوه نشستونه کوي.دې ټولني د سهلي پښتونخوا داسي لیکوال وروزل چې اوس د ښه نامه خاوندان دي.نن د هغو لیکوالانو په برکت پښتو ژبه و ادب په سهېلي پښتونخوا کښې یو درونډ مقام لري. دغه پښتو اکېډمۍ چې نن یې ګڼ شمېر کتابونه چاپ دي، د بلوچستان پوهنتون پښتو څانګه چې هر کال په زیات تعداد د شپاړسم او د ایم فل ، پي ، ایچ ،ډي سکالران ورڅخه فارغه کېږي او د څېړني سندونه تر لاسه کوي. دا د هغو خلګو پیرزوئیني دي کومو چې په داسي وخت کښې پښتو لیکل او لوستل شروع کړو کوم وخت چې پر پښتو پابندي وه. دوی خپلي ژبې پښتو ته پر نورو ژبو ترجیح ورکړه، چې نن یې په نتیجه کښې په سهېلي پښتونخوا کښې ګڼ شمېر ادبي ټولني دي او پښتو ادب ته یې ملا تړلې ده. د ادب دا کاروان مخ په وړاندي بیایي.

## حوالې

(۱) خلیل جاوید ډاکټر، په سرحد کښې پښتو ادبي جرګې او تنظیمونه، لاهور، ملت پرنټېر ۱۹۹۴ مخ ۲۵

(۲) هم دغه اثر. مخ ۲۲

(۳) وزیر نصرالله ډاکټر ، د غني خان فن او شخصیت ، کوټه یونائیټډ پریس مارچ ۲۰۱۱ مخ ۵۶

(۴) خلیل جاوید ډاکټر، په سرحد کښې پښتو ادبي جرګې او تنظیمونه، لاهور، ملت پرنټر ۱۹۹۴ مخ ۲۴

(۵) لیکني، دري میاشتنۍ مجله، اپریل تا جون، شماره ۹ جلد ۲ کوټه پښتواکېډمی ،۲۰۱۵ مخ ۸۲

(۶) کاکړ سیال، پښتو او پښتانه په سهېلي پښتونخوا کښې، کوټه قلات پبلشر ۱۹۸۱ مخ ۶۰

(۷) هم دغه اثر، مخ ۶۱، ۶۲

(۸) هم دغه اثر ، مخ ۶۶

(۹) هم دغه اثر ، مخ ۱۲۳